قرآني بيان

د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د نعت فضيلت

فېضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)

د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره

په 21 اګست، کال 2026ء

(متوقع اِسلامي تاريخ: 7 ربيع الاول، کال 1448ھ)

د جُمعۃُ المبارک



فېضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره
پۀ 21 اګست، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 7 ربيع الاول، کال 1448ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان

پۀ نوم

د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نعت فضيلت

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت د الله پاک نخښه ده
- د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت هدايت دے
- مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د ټولو اخري نبي
- پۀ زمکه باندې وړومبے اذان

پیشکش
اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ
Islamic Research Center
(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786
GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت اوكړو)

د دُرُودِ پاک فضيلت

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم:

اِنَّكُمْ تُعْرَضُوْنَ عَلَيَّ بِاَسْمَائِكُمْ وَسِيْمَائِكُمْ فَاَحْسِنُوا الصَّلَاةَ عَلَيَّ۔

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: بے شکه ستاسو نومونه سره د شناخته ما ته پيش کولے شي، لهذا په ما باندې په اَحسن (يعني په بهترينو الفاظو کښې، په شوق او محبت سره) دُرُودِ پاک لولئ۔ [1]

جا کے وہاں پیش ہوگا نام بنام | جس قدر جس کا ہو درود شریف
بزمِ مَولِد میں جب ہو تم حاضر | پڑھتے ہر دم رہو درود شریف [2]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... مصنف عبد الرزاق، كتاب الصلاة، باب الصلاة على النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، جلد:2، صفحه:140، حديث:3116

[2]... نُورِ ايمان، صفحه:39۔

قَالَ اللّٰہُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی فِی الْقُرْآنِ الْكَرِیْم (الله پاک په قرآنِ کریم کښې فرمائي):

وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۲﴾ (پارہ:1، سورۂ بقرہ:42)

صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْم وَصَدَقَ رَسُوْلُہُ النَّبِیُّ الْكَرِیْم صلّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او حق د باطِل سره مۀ یو ځائے کوئ او سره د پوهې حق مۀ پټوئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د ربیع الاَوَّل شریف فضیلتونه

اے د خورِ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! مبارکه میاشت، د نُور میاشت، یعنې د رَبِیعُ الاَوَّل میاشت د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنیا ته د تشریف راوړلو مبارکه میاشت ده، ځکه د دې میاشتې پۀ تشریف راوړلو د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقان خوشحالېږي، بوډا وي او که ځوان هر یو حقیقي مسلمان ګویا د زړۀ پۀ ژبه وائي:

ثار تیری چہل پہل پر ہزار عیدیں ربیعُ الاوّل
سِوائے اِبلیس کے جہاں میں سبھی تو خوشیاں مَنا رہے ہیں(1)

الله پاک دې زمونږه د دې مبارکې میاشتې برکتونه نصیب کړي، چې مونږ هم د جشن ولادت پۀ خوشحالۍ کښې چراغان اوکړو ◈ کورونه ښائسته کړو ◈ کوڅې

---

[1]... دیوانِ سالک، صفحه:35۔

ښائسته کړو ◈ د قرآنِ کریم ښه ډهر تِلاوت اوکړو ◈ ډهر درودِ پاک ولولو ◈ د خورِ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ذِکر محفلونه جوړ کړو ◈ د ګناهونو نه ډهٔ بچ کېدو ◈ ډهٔ شریعت کښې دننه ښه ډهٔ شوق او ذوق سره میلاد اوکړو ◈ دا هر څهٔ چې د اِخلاص سره، د الله او د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رضا د پاره اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم! د دِین او د دُنیا بے شمېره برکتونه به مو نصیب شي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

نُور کی پُھوہار برسی چار سُو ہے روشنی | ہو گیا گھر گھر چَراغاں عیدِ میلادُ النَّبی
غنچے چٹکے، پُھول مہکے ہر طرف آئی بہار | ہو گئی صبحِ بہاراں عیدِ میلادُ النَّبی
ہم نہ کیوں روشن کریں گھر گھر دِیے مِیلاد کے | خُود کرے جب حق چَراغاں عیدِ میلادُ النَّبی[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د آیت مبارک مختصر وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ د وړومبۍ سیپارې د سورۂ بقره د آیت: 42 د اوږدو سعادت حاصل کړو، ډهٔ دې آیت کښې بني اِسرائیل د 2 کارونو نه منع کړے شوي دي، هٰغه 2 کارونه څهٔ دي؟ الله پاک فرمائي:

وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ (پارہ: 1، سورۂ بقرہ: 42)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او حق د باطِل سره مهٔ یو ځائے کوئ-

---

[1]... وسائلِ بخشش، صفحہ: 379 و 380 ملتقطًا۔

يعنې يو ده حق خبره او دوېمه ده باطِله خبره، دا دواړه پۀ خپل مينځ کښې مۀ ګډوډوئ !

وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۲﴾ (پاره:1،سورۀبقره:42)	[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او سره د پوهې حق مۀ پټوئ-

دا دوېم حُکم دے: يعنې اے بني اِسرائيلو! حق قصداً عمداً حق هم مۀ پټوئ! بلکې حق همېشه ښۀ پۀ جار بيانوئ!

پۀ آيت کښې د حق نه څۀ مُراد دے---؟

پۀ اصل کښې معامله دا وه چې پۀ وړومبي لوئي اسماني کتاب يعنې تورات شريف کښې رَبِّ کائنات د خپل محبوبِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صفتونه او کمالونه او نخښې ښه ښکاره بيان کړې وې، اوس کيدل به داسې چې د بني اِسرائيلو نه به چا پوښتنه کوله چې تاسو خو اهل کتاب يـۍ، دا ووايئ چې پۀ تورات شريف کښې د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څۀ نخښې شته ؟ آيا د تورات مطابق مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رښتونے رسول دے؟ پۀ داسې موقع باندي به بني اِسرائيلو دوه قِسمه دوکې کولي: (1): يو خو دا چې کوم صفتونه او کمالونه د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وو، پۀ هغې کښې به يې د ځان نۀ څۀ خبرې ليکلې او وائيل به يې چې وګورئ! پۀ تورات کښې خو دا نخښې دي، پۀ مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې خو دا نشته- داسې به دوئي حق او باطِل يو بل سره ګډوډ (***Mix Up***) کولو (2): دوېمه دوکه دا وه چې د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک صفتونه به يـې مکمل پټول،

خلقو ته به يې هډو وئيل نۀ- پۀ دې باندې الله پاک دوئي له خبردارے ورکړو، [1] پۀ 4 سيپاره، د سورۀ آلِ عمران پۀ آيت: 187 کښې اِرشاد دے:

وَ اِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِیْثَاقَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَتُبَیِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ وَ لَا تَكْتُمُوْنَهٗ (پارہ:4،سورۂ آل عمران:187)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او ياد کړئ چې کله الله د هغه خلقو نه وعده واخستله کومو ته چې کتاب ورکړے شو چې تاسو ضرور دا کتاب خلقو ته بيان کړئ او دا مۀ پټوئ-

يعنې اے بنې اِسرائيلو! ستاسو نه خو وعده اخستے شوې وه چې تاسو به د الله پاک نازل کړے شوے کتاب نۀ پټوئ بلکې ښکاره به يې د خلقو پۀ مخکښې بيانوئ، اوس تاسو د هغې پټول شروع کړل، ځکه:

وَ لَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَ تَكْتُمُوا الْحَقَّ وَ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ (پارہ:1،سورۂ بقرہ:42)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او حق د باطِل سره مۀ يو ځائے کوئ او سره د پوهې حق مۀ پټوئ-

پۀ آيت مبارک کښې 2 ځله لفظ حق اِستعمال شوے دے، دلته د حق نه څۀ مراد دے؟ د دې پۀ وضاحت کښې مُفَسِّرينِ کِرَام فرمائي: نَعْتُ مُحَمَّدٍ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) يعنې دلته د حق نه مُراد د حُضُور جانِ کائنات، فخرِ موجودات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتِ پاک مُراد دے [2] کوم

---

[1]... تفسیر خازن، پارہ:1، البقرۃ، زیرِ آیت:42، جلد:1، صفحہ:41 ملتقطًا خلاصۃً۔

[2]... تفسیر جلالین مع حاشیہ صاوی، پارہ:1، البقرۃ، زیرِ آیت:42، جلد:1، جز:1، صفحہ:67۔

نعت--؟ کوم چې په **تورات شريف** کښې بيان شوے وو- ځکه بني اِسرائيلو ته حُکم اوکړے شو چې اے په **تورات** باندې د اِيمان دعوىٰ کوونکو! مونږ په تورات شريف کښې د خپل خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه ◈ د هغوئي صفتونه ◈ د هغوئي فضيلتونه او کمالونه ◈ د خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښکلي مخ ذِکر ◈ د خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښکلو اداګانو ذِکر ◈ د خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښکلي مُهرِ نبوت ذِکر ◈ د هغوئي د ګرځېدو ذِکر ◈ د هغوئي د خبرو د انداز ذِکر ◈ د هغوئي د ښار ذِکر ◈ د هغوئي د وِلادت ذِکر ◈ د هغوئي د هجرت ذِکر ◈ د هغوئي دُنيا ته د تشريف راوړلو ذِکر ◈ د هغوئي د دُنيا نه د ظاهري پردې فرمائيلو ذِکر غرض د خپل خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه او صفتونه مو ښکاره بيان کړې، اے د تورات والؤ! اوس په تاسو باندې لازم دي چې تاسو زمونږ د خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نعتونو کښې مۀ خو د خپله ځانه ملاوټ کوئ! مۀ زمونږ د خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه پټوئ! بلکې چې څومره کېدے شي زمونږ د خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه بيانوئ--!

سُبْحٰنَ الله! **خورږو او محترمو اسلامي ورونو!** معلومه شوه چې د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه، د هغوئي صفتونه او کمالونه بيانول د رَبِّ کريم خوښ عمل دے- د دې نه اندازه ولګوئ چې څومره خوش قسمته دي هٰغه خلق کوم چې د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صفتونه بيانوي، نعتونه وائي ◈ په ميلاد کولو سره ◈ د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر په محفلونو جوړولو سره ◈ د جنډو په لګولو سره ◈ په جلوس کښې په شرکت کولو په خوشحالیِ خوشحالیِ د هغوئي دُنيا ته د تشريف راوړلو ذِکر کوي او د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر سعادت حاصلوي-

نعت سُنتا رہوں، نعت کہتا رہوں | آنکھ پُر نَم رہے، دِل مچلتا رہے
نجمؔ نامِ مُحَمَّد زباں پر رہے | ذِکْر ہوتا رہے، سانس چلتی رہے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعت حق دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دلته څومره د کمال خبره ده چې رَبِّ کائنات د خپل محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعت مبارک، د هغوئي صفتونو او کمالونو، د هغوئي د شان او عظمت بیان ته حق وئیلے دے۔

اوس دا پیژندل دي چې حق څۀ وي؟ رَبِّ کائنات پۀ 13 سیپاره، سورۀ رَعد کښې د حق او د باطِل پۀ فرق پوهه کړي یو، اِرشاد دے:

فَاَمَّا الزَّبَدُ فَیَذْهَبُ جُفَآءً ۚ وَ اَمَّا مَا یَنْفَعُ النَّاسَ فَیَمْكُثُ فِی الْاَرْضِ ؕ

(پارہ:13، سورۂ رعد:17)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو څۀ خو ضائع شي، او هٰغه (اوبۀ) کومې چې خلقو له فائده ورکوي هغه پۀ زمکه کښې باقي اوسي۔

دا د حق او د باطِل مثال دے، [1] د دې خُلاصه دا ده چې کله پۀ شړق باران وربږي، اوبۀ پۀ زمکه باندې راواني شي ،نو هٰغه وخت د اوبو د پاسه څۀ څۀ شان راځي، بیا دغه څۀ خوزر ختم شي خو کومې اوبۀ چې دي، هغه محفوظې وي، هغه نۀ ختمېږي،

[1]... تفسیر بغوی، پارہ:13، الرعد، زیرِ آیت:17، جلد:2، صفحہ:522۔

هغه زمکه رابنکاريِ، د ورېځو په شکل کښې په هوا کړے شي، ګلېشئر [د واورو ټوټان] ترينه جوړ کړے شي او محفوظ کړے شي، دا نۀ ختمېږي، فرمائي: دا د حق او د باطِل مِثال دے، باطِل که د څۀ وخت د پاره خور هم شي، خو اخِر ختمېږي او د حق دا شان دے چې دا څومره هم پټوې! هم هٰغه همره رابنکاره کيږي، د دې چې څومره د غلي کولو کوشش کوې! هم هٰغه همره مخې ته راځي۔

اوس لږ غور اوکړئ! ◈ يو طرف ته د مثال په ذريعه پوهه کړے شو چې ◈ حق چرې هم نۀ پټېږي ◈ حق چرې هم نۀ غلے کيږي ◈ حق چرې هم نۀ ختمېږي ◈ بل اړخ ته ◈ د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت ◈ د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صفتونو ◈ د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کمالونو ته حق فرمائيلے کيږي، دا دواړه چې يو ځائے کړې نو نتيجه به څۀ راوځي؟ هم دا چې ◈ د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت حق دے دا چرې هم نشي ختمېدے ◈ د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صفات حق دي، دا چرې هم نشي پټېدے ◈ د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کمالات حق دي، دا هم چرې نشي ختمېدے۔

تُو گھٹائے سے کسی کے نہ گھٹا ہے نہ گھٹے | جب بڑھائے تجھے اللہ تَعَالٰی تیرا[1]

خورو او محترمو اِسلامي ورونو! زمانه ګواه ده چې د ابو جهل نه واخله تر د دنيا پورې په زرګونو نۀ بلکې په لکونو خلق راغلل، د وخت لوئي لوئي بادشاهانو د خورِ آقا و مولا، مکي

[1]... حدائقِ بخشش، صفحه:29۔

مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر د منع کولو کوشش اوکړو ◈ د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکر، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د میلاد پۀ محفل، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ کمالونو یې د بدعت فتوې هم ولګولې ◈ پۀ عالمي سطح یې د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مَعَاذَ الله! ګستاخیانې هم اوکړې ◈ د ګستاخِ خاکې هم جوړولے کیږي ◈ د دُنیا لوئي لوئي طاقتونه زور لګوي چې پۀ څۀ طریقه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر کم شي ◈ پۀ څۀ طریقه د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت کم شي خو د رَبِّ رحمان فضل دے، 1450 کاله پوره کېدونکي دي، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر نۀ چرې کم شوے او نۀ به د قیامته پورې چرته کم شي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دا ذِکر ورځ پۀ ورځ زیاتېږي۔

مِٹ گئے، مِٹتے ہیں، مِٹ جائیں گے اَعدا تیرے
نہ مِٹا ہے نہ مِٹے گا کبھی چرچا تیرا[1]

او اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور پۀ یو ځائے کښې لیکلي دي:

وہی دُھوم اُن کی ہے مَا شَآءَ الله! | مِٹ گئے آپ مِٹانے والے[2]

د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ذِکر کښې نوره هُم اضافه کیږي

د بني اِسرائیلو یو کَس وو، د اِسلام نه او د خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه به یې ﴿اَستَغفِرُ الله!﴾ نفرت کولو، یوه ورځ هغۀ توارت شریف کولاؤ کړو، د هغې تِلاوت

---

[1] ... حدائقِ بخشش، صفحه:29۔

[2] ... حدائقِ بخشش، صفحه:161۔

يـې شروع کړو، څۀ ګوري چې پۀ تورات شريف کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ نوم پۀ 4 ځايونو کښې مُحَمَّد ليکلے شوے دے، د هغۀ د دې نوم نه نفرت وو، پۀ تورات شريف کښې چې يـې دا نوم وليدو نو غصه شو، فوراً هغۀ دا نوم مبارک د هٰغه ځائے نه وران کړو- پۀ بله ورځ چې کله بيا د تورات شريف د لوستلو د پاره کېناستو نو بيا د 4 پۀ ځائے پۀ 8 ځايونو کښې مُحَمَّد نوم ليکلے شوے وو- (ډېر حېران شو، د کور والؤ نه يـې پوښتنه اوکړه، خپل بچي يـې ورټل چې تاسو به ليکلے وي، ټولو ووئيل چې مونږ خو نۀ دے ليکلے-)

خېر! هغۀ بيا نومونه مبارک وران کړل، پۀ بله ورځ څۀ ګوري چې د 8 پۀ ځائے پۀ 12 ځايونو کښې نوم مبارک ليکلے شوے دے- بيا خو هغه سم غصه شو، کله چې هغه دا وليدل چې که زۀ يـې ډېر هم وران کړم، دا پاک نوم نۀ ختمېږي، نور هم زياتېږي نو د هغۀ پۀ زړۀ کښې نُور راپورته شو او هغه کلمه ووئيله او اِسلام يـې قبول کړو- [1]

دُشمن گھٹائیں جتنی، عزّت بڑھے گی اُتنی | مَنْظُور ہے خُدا کو احترام تیرا[2]

د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت د الله پاک نخښه ده

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! الله پاک فرمائي:

وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۴۲﴾

(پاره:1، سورۀ بقره:42)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او حق د باطِل سره مۀ يو ځائے کوئ او سره د پوهې حق مۀ پټوئ-

---

[1]... نزہۃ المجالس، فصل فی سکنی الشام، باب ذکر سید الاولین والاخرین...الخ، صفحه:329۔ المکتب الثقافی

[2]... قبالۀ بخشش، صفحه:26۔

پۀ دې ځائے کښې الله پاک د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت ته حق وفرمائيلو- دا د قرآنِ کريم يو اهم مقام دے، د دې نه علاوه د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت پۀ نورو کومو کومو الفاظو قرآنِ کريم ذکر کړے دے، واورئ! الله پاک فرمائي:

وَلَا تَشْتَرُوْا بِاٰیٰتِیْ ثَمَنًا قَلِیْلًا (پاره: 1، سورۂ بقره: 41)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او زما د آيتونو پۀ بدله کښې لږ نرخ [قيمت] مۀ وصولوئ-

دلته الله پاک د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت ته اٰیٰتِیْ (زما نخښې) فرمائيلې دي-[1] د دې مطلب به دا راووځي چې ◈ ذِکر که د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وي نو د دې نه د رَبِّ کريم شان ظاهرېږي ◈ که ذِکر د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زلفانو مبارکو وي ◈ که ذِکر د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخ مبارک وي ◈ که ذِکر د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صفتونو او کمالونو وي نو دا ټول ذِکرونه د رَبِّ کريم نخښې دي ځکه د دې ذِکر سره پۀ زړۀ کښې د الله پاک محبت زياتېږي او د رَبّ قُرب نصيب کيږي- اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډېره ښکلې خبره کړې ده:

تم سے خُدا کا ظُہور، اُس سے تمہارا ظُہور	لِمْ ہے یہ، وہ اِنْ ہوا، تم پہ کروڑوں درود[2]

وضاحت: دا ډېره باري که خبره ده، يو وي: دَلیلِ لِمّی او بل وي: دلیلِ اِنّی- زۀ د دې لږ د مثال

---

[1]... تفسیر جلالین مع حاشیه صاوی، پاره: 1، البقرة، زیرِ آیت: 41، جلد: 1، جز: 1، صفحه: 67۔

[2]... حدائقِ بخشش، صفحه: 267۔

سره پۀ اسانولو د پوهه کولو کوشش کووم، دا وګڼئ چې ◈ تاسو ته لرې چرته لوګے پۀ نظر راځي، تاسو فوراً پوهه شئ چې چرته وور لګېدلے دے- حالانکې تاسو وور نۀ دے لیدلے، لـمبې مو نۀ دي لیدلې، څوک راغلے نۀ دے او درته یـې وئیلې نۀ دي، تاسو صرف لوګے ولیدو او پوهه شوئ چې وور لګېدلے دے-

◈ دغه شان چې مونږه چرته بَل شوے وور ووینو نو پوهه شو چې وور شته نو لوګے به هم وي، د مثال پۀ طور نن سبا خو هٰغه دور نۀ دے پاتې، بیا که هم چرته مونږ پۀ کور کښې شمع بلوو نو لږه پۀ اِحتیاط سره بلولے شي چې هسې نۀ د شمعې پۀ وجه دېوال تور نۀ شي، یعنې مونږ پوهېږو چې وور بَل شي نو لوګے به کیږي- یعنې دا دوه اړخونه دي، د لوګي پۀ لیدو وور وپېژندلے شو، دې ته وائي: دَلیلِ لِمّی- دوېم اړخ دے: د وور پۀ لیدو لوګے پېژندل، دې ته وئیلے کیږي: دلیلِ اِنّی- سرکارِ اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي:

تم سے خُدا کا ظہور، اُس سے تمہارا ظہور | لِمْ ہے یہ، وہ اِنْ ہوا، تم پہ کروڑوں درود(1)

یعنې اے خورِه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! رَبِّ کریم تاسو داسې بے مثاله او کمالي جوړ کړي یـې چې ستاسو شانونه ولولې نو اِنسان د رَبّ پۀ توحِید پوهه شي او د رَبِّ رحمان پۀ توحِید چې ځان پوره پوهه کړې نو اِنسان ستاسو پۀ شان او پۀ عظمت پوهه شي-

نو الله پاک د خپل خورِ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان او عظمت ته، صفتونو او کمالونو ته، د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعت مبارک ته خپلې نخښې

1... حدائقِ بخشش، صفحہ:267۔

فرمائيلي دي- نور واورئ!

د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت هدايت دے

پۀ 2 سيپاره، سورۀ بقره، آيت: 159 کښې الله پاک اِرشاد فرمائي:

اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْتُمُوْنَ مَآ اَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنٰتِ وَالْهُدٰى (پارہ:2،سورۂ بقرہ:159)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: بے شکه هٰغه خلق کوم چې زمونږه نازلې کړې روښانه خبرې او هدايت پټوي-

دلته د بني اِسرائيلو د هٰغه خراب عادت بيان دے چې دوئي د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صفتونه پټوي خو غور اوکړئ چې مخکښې کوم آيتونه مونږه واورېدل، پۀ هغې کښې د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نعت د پاره **حق** لفظ اِستعمال شوے وو، دلته الله کريم د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت ته **اَلْهُدٰى** يعني د هدايت ذريعه اِرشاد فرمائيلې ده- (1)

سُبْحٰنَ الله! د دې نه معلومه شوه چې د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلے ذِکر د هدايت ذريعه ده ◈ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شانونه چې بيان کړے شي ◈ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صفتونو او کمالونو ذِکر چې اوکړے شي ◈ د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سيرت مبارک چې پۀ ذوق او شوق سره ولوستلے شي نو د هغې پۀ برکت د اِنسان هدايت نصيب کيږي-

---

[1]... تفسير جلالين مع حاشيه صاوی، پاره:2، البقرة، زيرِ آيت:159، جلد:1، جز:1، صفحه:126۔

مریض کلمه ووئیله او مسلمان شو

پۀ مسندِ اِمام احمد کښې دي: يو ځل خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يو يهودي پۀ خوا تېرېدو، د هغۀ ځوي بيمار وو او هغه د هغۀ سر ته ناست وو او تورات يې لوستلو، سرکار عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اے يهودي! ستا دې پۀ هٰغه رښتوني خدائے باندې قسم وي کوم چې پۀ موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام باندې تورات نازل کړے! آيا پۀ تورات کښې زما نعت او صفتونه ليکلي دي، هغه فوراً انکار اوکړو خو د هغۀ ځوي کوم چې بيمار وو، د هغۀ بخت رابېدار شوے وو، هغه فوراً د (خپل پلار د دروغو پۀ ښکاره کولو سره) ووئيل: زۀ ګواهي ورکووم چې پۀ تورات کښې ستاسو نعت، ستاسو صفتونه او ستاسو [دُنيا ته] د تشريف راوړلو د زماني ذِکر موجود دے- د دې وئيلو سره هغۀ (يعني ماشوم) کلمه ووئيله او مسلمان شو- [1]

یہ کس شہنشہِ والا کی آمد آمد ہے
یہ کون سے شہِ بالا کی آمد آمد ہے
وہ آئے آنے کی جن کے خبر تھی مُدت سے
دُعا خلیل کی عیسیٰ کی جو بشارت تھے [2]

سُبْحٰنَ اللّٰہ! دا دے د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نعت فېضان--!! يو غېر مسلمه چې کله پۀ تورات شريف کښې ليکلے شوے نعت شريف د

---

[1]... مسندِ امام احمد، جلد:9، صفحه:551، حدیث:24135 ملتقطاً۔

[2]... سامان بخشش، صفحه:135 و 136 ملتقطاً۔

زړۂ نه ومنلو، د زړۂ نه يې تسليم کړو نو د هغې پۂ برکت د هٰغه خوش قِسمته د اِيمان دولت هم نصيب شو او د صحابيت ډېره اوچته درجه يې هم نصيب شوه-

د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت پټول

خورِو او محترمو اِسلامي وروڼو! لکه څنګه چې د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت د هدايت ذريعه ده، هم داسې د خورِ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت پټول د ګمراهۍ سبب هم دے- الله پاک د بني اِسرائيلو پۂ باره کښې فرمائيلي دي:

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَ صَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَدْ ضَلُّوْا ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ﴿۱۶۷﴾

(پاره:6، سورۂ نساء:167)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بے شکه هٰغه خلق کومو چې کُفر اوکړو او د الله د لارې نه يې اِيسارول اوکړل بے شکه هغوئ د لرې پۂ ګمراهۍ کښې پرېوتل-

يعنې هٰغه خراب خلق کوم چې خلق د الله د لارې نه منع کوي، د دِينِ اِسلام نه يې منع کوي هغوئ پۂ ډېره لويه ګمراهۍ کښې دي- اوس دلته سوال دا دے چې هغوئ د الله د لارې نه خلق څنګه منع کوي؟ د دې انداز څۂ اِختياروي؟ مفسرينِ کرام فرمائي: بِكَثْرَةِ نَعْتِ مُحَمَّدٍ[1] يعنې بني اِسرائيل د الله پاک بندګان د الله پاک د لارې نه د منع کولو د پاره، د هدايت د لارې نه د منع کولو د پاره د خورِ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت مبارک پټوي-

خورِو او محترمو اِسلامي وروڼو! معلومه شوه چې ◈ د خورِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت

[1]... تفسير جلالين مع حاشيه صاوی، پاره:6، البقرة، زيرِ آيت:167، جلد:1، جز:2، صفحه:84-

پټول ◈ د خورِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صفتونه پټول ◈ د خورِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کمالونه نۀ بیانول، د ګمراهو سبب جوړیږي- ځکه مونږ له پکار دي چې پۀ خوشحالی، پۀ ذوق او شوق سره، د پوره اِیماني طاقت سره د محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکرِ خیر کوو، پۀ دې کښې هیڅ کمے هم نۀ راولو-

خاک ہو جائیں عَدُو جَل کر مگر ہم تو رضاؔ
دَم میں جب تک دَم ہے، ذِکر اُن کا سُناتے جائیں گے[1]

یو اَهم وضاحت

دلته یو وضاحت دا هم کووم چې یو نعت هٰغه دے کوم چې دلته عام دے، نعت خوانان پۀ مائیک پۀ طرز د خورِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ شان کښې لیکلے شوي شعرونه وائي، دا هم نعت دے، که چرې دا شعرونه د شریعت پۀ دائره کښې دننه لیکلے شوي وي نو د دې هم فضیلتونه دي، برکتونه دي، البته دلته د قرآنِ کریم پۀ رڼا کښې چې د خورِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کوم نعت ذِکر کیږي، د هغې نه مُراد د خورِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صفتونه او کمالونه دي کوم چې پۀ قرآنِ کریم کښې راغلي دي، کوم چې پۀ حدیثونو کښې راغلي دي، د هغې بیانول ◈ اوس که هغه ◈ د شعرونو پۀ شکل کښې وي او که ◈ د بیان پۀ شکل کښې ◈ د دَرس پۀ شکل کښې وي او که ◈ د کتاب لیکلو ◈ د لوستلو پۀ شکل کښې، چې څنګه وي، د هغې فائدې نصیب کیږي ◈ ځکه مونږ له پکار دي چې ◈ د خورِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذِکر کوو ◈ د خورِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

[1]... حدائقِ بخشش، صفحہ:157۔

صفتونه بيانوو ◈ د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كمالونه بيانوو، ◈ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښكلو ښكلو اداګانو ذِكر كوو ◈ د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سيرت بيانوو، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دې پۀ بركت به مو پۀ زړۀ كښې عشقِ رسول هم زياتېږي، د الله پاک محبت به هم زياتېږي او كه رَبّ وغوښتل نو دُنيا به هم ښه كيږي او اخرت به مو هم ښه كيږي-

مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د ټولو اخري نبي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ 7 ستمبر زمونږ پۀ خوږ وطن پاكستان كښې د ختمِ نبوت ورځ نمانځلے شي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دا د دې پاک وطن خصوصي اعزاز دے چې پۀ ټوله دُنيا كښې يواځې پاكستان دے چرته چې د ختمِ نبوت د عقيدې تحفظ د آئين برخه ده-

زمونږه خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اخري نبي دے، د هغوئ نه پس به تر د قيامته پورې هيڅ يو بل نبي نۀ پيدا كيږي، دا عقيده قطعي (يعني 112 فيصده يقيني) ده، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پۀ لَا اِلٰهَ اِلَّا الله باندې اِيمان راوړل چې څومره ضروري دي، پۀ خَاتَمُ النَّبِيّٖن باندې اِيمان راوړل هم هٰغه همره ضروري دي- [1] پۀ مخكښې اسماني كتابونو كښې چې د رسولِ اَكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كوم نعتونه بيان شوې، پۀ هغې كښې يو دا هم دے چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو اخري نبي دے- د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے: **اخري نبي، مكي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي:** بے شكه كله چې پۀ موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام باندې تورات نازل شو نو هغوئ د هغې تِلاوت كولو،

---

[1]... فتاوٰی رضويه، جلد:15، صفحه:630 خلاصةً-

پۀ دې کښې يې چې د دې (اخري) اُمت ذِکر ولوستو نو عرض يې اوکړو: اے الله پاکه! زۀ پۀ تورات کښې د داسې اُمت ذِکر وينم کوم چې (د زمانې پۀ لحاظ سره) د ټولو نه اخري او د قيامت پۀ ورځ به (پۀ فضيلت کښې) د ټولو نه مخکښې وي، اے کريم مالکه! دا زما اُمت جوړ کړې! الله پاک وفرمائيل: تِلْكَ اُمَّةٌ اَحْمَد يعنې (اے موسىٰ!) دا (د ټولو د اخري نبي) اَحمَدِ مُجتبىٰ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اُمت دے۔ [1]

سب انبياء کے ہو تمہيں سردار لَا جَرَم | تم سا نہيں ہے دوسرا، اے آخری نبی!
بعد آپ کے ہرگز نہ آئے گا نبی نيا | واللہ! ايمان ہے ميرا، اے آخری نبی![2]

د مخکښينو اُمتونو د عِلم والۀ ګواهي

◈ حضرت مُغِيرَہ بِن شُعبَة رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د اِسلام قبلولو نه خپله مخکښينې خبره کوي :چې يو ځل مونږ د مِصر د بادشاه مَقُوقَش نه د حضورِ اَقدَس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تعريف واورېدو، بيا زۀ اسکندريه ته لاړم، هلته ما د مخکښينو اُمتونو يوه عبادت خانه هم پرې نۀ ښودله، ټولو ته لاړم، د ټولو نۀ مې د مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ باره کښې پوښتنه اوکړه، اخِر د يو پادري خوا له لاړم، هغه د خپل قام ډېر لوئي عالِم وو، ما د هغۀ نه پوښتنه اوکړه: آيا څوک نبي دُنيا ته د راتللو نه پاتې دے؟ هغۀ ووئيل: نَعَم! وَهُوَ آخِرُ الْاَنْبِيَاء آؤ! هغه اخري نبي دے، د هغۀ او د عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام ترمينځه يو نبي هم تشريف نۀ دے راوړے، حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام هم پۀ دوئي پسې د تللو حُکم کړے وو، هٰغه نبي، اُمّي، عربي دے او د هغۀ پاک نوم

---

[1]... دلائل النبوه للبيهقي، جماع ابواب صفة رسول الله، باب صفة رسول الله في...الخ، جلد:1، صفحه:379۔

[2]... وسائلِ فردوس، صفحه:21۔

احمد دے۔

حضرت مُغِيرَه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما دا ټولې خبرې نبې یادې کړې او د هٰغه ځائے نه د را واپس کېدو سره مې اِسلام قبول کړو۔ [1]

حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام او د ختمِ نبوت عقيده

◈ د صحابیِ رسول حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے، اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کله چې الله پاک حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پيدا کړو نو د هغوئ اولاد ورته وښودلے شو، هغوئ په خپل اولاد کښې بعضې د بعضو نه افضل وليدل، بس هغوئ د ټولو نه په اخره کښې اوچت او روښانه يو نُور وليدلو، عرض يې اوکړو: يَارَبِّ! مَنْ هٰذَا؟ اے الله پاکه! دا څوک دے؟ ارشاد وشو: اے آدمه! دے ستاسو څوي احمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) دے، دے اَوَّل دے، دے آخِر دے، دے هٰغه دے کوم چې به (د قيامت په ورځ) د ټولو نه مخکښې شفاعت کوي، د دوئ شفاعت به د ټولو نه مخکښې قبلولے شي۔ [2] ◈ د صحابیِ رسول حضرت جابِر بن عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د الله پاک د نبي حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د دواړو اوکو ترمينځه ليکلي وو: مُحَمَّد رسول الله خَاتَمُ النَّبِيِّن "مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک رسول او د ټولو اخري نبي دے۔" [3]

سُبْحٰنَ الله! دا دے د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت---!! د

---

[1] ... دلائل النبوة لابی نعیم، جز:1، الفصل الخامس ذکرہ فی الکتب... الخ، صفحہ:4644، رقم:45 ملتقطًا۔

[2] ... مختصر تاریخ دمشق لابن عساکر، ماورد فی اصطفائہ علی العالمین... الخ، جلد:2، صفحہ:111۔

[3] ... مختصر تاریخ دمشق لابن عساکر، ذکر عروجہ الی السماء واجتماعہ بالانبیاء، جلد:2، صفحہ:137۔

قُدرت قلم هُم د ازل نه د محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نعتونو ذِکر کړے وو او په هٰغه پاکو نعتونو کښې د هغوئ اخري نبي کېدل په خاص توګه بيان کړے شوي وو-

نہیں ہے اور نہ ہو گا بعد آقا کے نبی کوئی
وہ ہیں شاہِ رسل ختمِ نبوت اس کو کہتے ہیں
لگا کر پشت پر مُہرِ نبوت حق تعالیٰ نے
انہیں آخر میں بھیجا خاتمیت اس کو کہتے ہیں(1)

په زمکه وړومبے اذان

خورو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا هم د کمال يوه خبره ده چې اِنسان کله په وړومبي ځل په دې زمکه باندې قدم کېښودو، هٰغه وخت هم د خورِ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعت مبارک وو، د کوم په ذريعه چې به د زړونو سکون او ارام نصيب کېدلو- د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، **رسولِ رحمت، شفيعِ اُمَّت** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي:** حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام په هندوستان کښې راکوز شو، هغوئ لږ وِيريدلو نو حضرت جبريلِ عَلَیْہِ السَّلَام راغلو، هغوئ اذان اوکړو، کله چې هغوئ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله ووئيل نو حضرت آدم عَلَیْہِ السَّلَام پوښتنه اوکړه: مَنْ مُحَمَّد؟ يعنې مُحَمَّد څوک دے؟ جبريل عَلَیْہِ السَّلَام ووئيل: آخِرُ وَلَدِكَ مِنَ الْاَنْبِيَاءِ يعنې مُحَمَّد ستاسو په اولاد کښې د ټولو نه اخري نبي دے- (2)

---

[1] ...قبالۂ بخشش، صفحہ:207۔

[2] ...تاریخِ مدینہ دمشق، رقم:578، آدم نبی اللہ یکنی ابا مُحَمَّد...الخ، جلد:7، صفحہ:437 ملتقطًا۔

شہِ اَنبیا ہے، خدا کا ہے پیارا | وہ نبیوں میں سُن لو! نبی آخری ہے
مُحَمَّد ہے احمد، ہے سُلْطانِ بَطْحا | وہ نبیوں میں سُن لو! نبی آخری ہے

د بيان خُلاصه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نعت مبارک يو څو فضيلتونه او فائدې مونږه واورېدې، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت حق دے او حق چرې هم نۀ پټېږي، چرې نۀ ختمېږي، همېشه ښکاره وي اوۀۀ بره روان وي - د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت مبارک ته آياتِ خُدا (يعني د الله پاک ځنبې) فرمائيلے شوې دي، معلومه شوه چې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت مبارک د الله پاک ذِکر هم دے چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شان نه د الله پاک شان څرګندېږي-

واہ کیا مرتبہ ہوا تیرا | تُو خُدا کا خُدا ہوا تیرا
اور میں کیا لکھوں خُدا کی حمد | حمد اسے وہ خُدا ہوا تیرا
جو ترا ہو گیا خُدا کا ہوا | جو خُدا کا ہوا، ہُوا تیرا

دغه شان د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعت مبارک د هدايت ذريعه ده چې د هغې پۀ برکت ◈ پۀ زړونو کښې د اِيمان نُور زياتېږي ◈ زړۀ روښانه کيږي ◈ عشقِ رسول زياتيږي ◈ د الله پاک محبت زياتيږي او ◈ هدايتونه نصيب کيږي- ځکه مونږ له پکار دي چې مونږ د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکرِ خير ښۀ ډېر

کوو، میلاد هم کوو- د میلاد اصل خو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړل دي، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړلو، زمونږه هدايت نصيب شو، د دې نعمت د شُکر نوم ميلاد دے- د دې سره سره بيا ◈ وړې وړې جنډې لګول ◈ پۀ وړو وړو لائټونو ودانۍ ښائسته کول ◈ غټې جنډې لګول ◈ کورونه، کوڅې، بازارونه ښائسته کول، دا هر څۀ د خوشحالۍ د اِظهار د پاره دي، کله چې پۀ کور کښې د چا وادۀ وي نو کور ښائسته کولے شي، پۀ څۀ وجه؟ ځکه چې پۀ کور کښې وادۀ وي، بهر د کوڅې پۀ دېوال وارې وارې لائټونه لګولے شوي وي، د هغې خو نۀ رڼا کور ته راځي او نۀ يې ښکلا پۀ کور کښې ښکاري، بيا د دې لائټونو لګولو وجه څۀ ده؟ د خوشحالۍ د اِظهار د پاره کولے شي، د دې وئيلو او ښودلو د پاره کولے شي چې زمونږ د ځوي وادۀ دے- بس! پۀ ميلاد کښې هم دا هر څۀ د خوشحالۍ د اِظهار د پاره کولے شي، د ميلاد اصل د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر دے او مونږ د قرآنِ کريم پۀ رڼا کښې واورېدل چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر پټول، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کمالونو بيانولو نه منع کول پۀ اصل کښې د رَبّ د لارې نه، د دِينِ اِسلام نه منع کول دي- الله پاک دې مونږه محفوظ وساتي-

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ښه پۀ خوشحالۍ، پۀ ذوق او شوق سره، پۀ پوره اِيماني جذبې سره ميلاد اوکړئ! د چا پۀ وسوسو کښې هيڅکله مۀ راځئ! کورونه هم ښکلي کړئ! کوڅې هم ښکلي کړئ! آؤ! يوه خبره کومه چې لازمي ياد ساتل پکار ده، هغه دا چې ميلاد هم کول دي خو د ميلاد والا آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ شريعت کښې دننه کول دي، پۀ دې کښې د شريعت خِلاف يو کار

هم نۀ دي کول پکار-

الله پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

درود او سلام موبائل ايپلي کښشن

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تنظيم دعوتِ اسلامي د سمارټ فون (***smartphone***) پۀ ذريعه هم د عِلمِ دِين د عام کولو کوشش کوي- پۀ دې باره کښې د دعوتِ اسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا مختلف ايپلي کښشنز جاري کړے شوي دي، پۀ دې کښې يو ايپلي کښشن دے: درود او سلام (***Durood-o-Salam***) ◈ پۀ دې ايپلي کښشن کښې درود او سلام موجود دي کوم چې تاسو هر وخت لوستلے شئ يا هغه پۀ خپل موبائل د اَن لاک ټيون (***Unlock Tune***) پۀ توګه باندې سيټ کولے شئ د کوم پۀ وجه چې څنګه خپل فون آن کړئ نو پخپله به (***Automatically***) چليږي ◈ دا اساني هم ورکړې شوې ده چې تاسو څنګه موبائل اَن لاک کړئ نو هٰغه درودِ پاک به ستاسو د موبائل پۀ سکرين باندې ښکاري د دې برکت به دا وي چې تاسو به وړومبے درودِ پاک لولئ او بيا به موبائل اِستعمالوئ- نور دا چې پۀ سکرين باندې د نظر راتلونکي درودِ پاک فونټ هم پۀ خپله خوښه سيټ کولے شئ ◈ د موبائل پۀ آن کېدو چې څومره ځل درود شريف لوستلے کيږي هٰغه همره شمېره به پخپله درج کيږي ◈ تاسو پۀ خپله خوښه د درودِ پاک د اواز واليوم (***volume***) اډجسټ کولے شئ ◈ د دې د ټولو نه اهمه فائده دا ده چې زمونږ به د خپلې ورځې د درودِ پاک والا نېک عمل پورا کولو کښې مرسته

کيږي- هم نن دا ځانګړے ايپلي کېشن پۀ خپل موبائل کښې ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان پۀ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

مسئله: نعت شريف د موسيقۍ سره وئيل او اورېدل نا جائزه او ګناه ده-

وضاحت: **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** نعت شريف وئيل هم سعادت دے، دا اورېدل هم سعادت دے خو اوس عجيبه حالات دي، خلقو نعتِ پاک هم د موسيقۍ سره وئيل شروع کړي دي، نعت خوان نعت وائي، شا ته وريسې پۀ ورو ورو موسيقي شروع وي، ياد ساتئ چې موسيقي نا جائزه او ګناه ده- پۀ **بُخاري شريف** کښې حديثِ پاک دے، حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ډېر زر به زما پۀ اُمت کښې ځينې قومونه داسې وي، کوم چې به زنا، ربښې جامې او سازونه حلال ګرځوي- [1] **پۀ يو روايت کښې فرمائي:** زما رَبّ ما ته د مَزَامِير (يعنې د موسيقۍ د آلاتو) د ماتولو حُکم راکړو- [2] **اَللّٰهُ اَکْبَر!** خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې د کومو خيزونو د ماتولو د پاره تشريف راوړلو، غور

---

[1]... بخاری، کتاب الاشربة، باب ما جاء فيمن يستحل الخمر...الخ، صفحه:1421، حديث:5590-

[2]... مسند امام احمد، مسند الانصار، حديث ابی امامة الباہلی...الخ، جلد 9، صفحه:212، حديث:22945-

اوکړئ چې هم د هغوئ پۀ شان بيانولو کښې داسې آلات اِستعمالول څومره بے ادبي ده- ځکه د موسيقي والا نعت وئيل هم جائز نۀ دي او دا اوريدل هم نا جائزه او ګناه ده- اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مزامير (يعني د سندرو سازونو غږولو آلات) حرام دي- [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

يَا وَكِيلُ (اے کار ساز، ورانې ودانوونکيه)

څوک چې روزانه د مازيګر د نـمونځ نه پس يَا وَكِيلُ 7 کرته لولي اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د افت نه به محفوظ وي- [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... فتاوٰی رضويه، جلد:24، صفحه:138۔

[2]... مدنی پنج سوره، صفحه:253۔